**بسم الله الرحمن الرحیم**

# په غزه کې د جګړې وروستي تحولات

د غزې پر وړاندې د اسرایلو جګړې په اړه مورِ په اصلي جیوپولیټیک تحلیل کې دې پایلې ته ورسېدو چې دا د اسرایلو او امریکا تر منځ د لویو سټراټیژیکو اختلافاتو پایله ده. امریکا غواړي خپل ټول پام «اسیا ته واوړي» او د دې لپاره اړتیا لري چې اسرایل د اسلامي نړۍ له هېوادونو سره رسمي تړونونه لاسلیک کړي او د یوه فلسطیني دولت له تاسیس سره توافق وکړي. د نتنیاهو په مشرۍ اسرایلي حکومت غواړي د «ابراهیمي تړونونو» ځینې شرطونه بدل کړي چې په منځني ختیځ کې له خپلې نظامي برترۍ ډاډ ترلاسه کړي او د فلسطیني دولت د تاسیس په اړه له خبرو اترو ډډه وکړي. د دې پر ځای غواړي د «فلسطین مسله» داسې حل کړي چې د فلسطین خلک له غزې او لوېدیځې غاړې وباسي او دا سیمې په «لوی اسرایل» پورې وتړي. مورِ ویلي وو:

«په ډېر احتمال امریکا د اکتوبر په ۷مه د حماس د برید له پلان څخه خبره وه او د اسرایلو له ځینو پوځي او سیاسي عناصرو سره یې کار وکړ چې دا پلان بریالی شي. د امریکا موخه دا وه چې د اکتوبر د ۷مې پېښې څخه پر نتنیاهو د فشار راوړلو لپاره ګټه واخلي چې د منځني ختیځ لپاره د امریکا له جیوپولیټیکې سټراټېژۍ سره سم عمل وکړي.»

مورِ دغه راز په اصلي جیوپولیټیک تحلیل کې وویل چې اوس، د ډسمبر له لومړیو تر نیمایي، امریکا نه ده بریالۍ شوې چې له نتنیاهو هغه څه ترلاسه کړي چې غواړي یې. په دغه جیوپولیټیک تحلیل کې مورِ پر دې بحث کوو چې له هغه وخت راهیسې تر اوسه څه شوي او دغه تحولات د غزې د جګړې د تر ټولو ممکن مسیر په اړه څه ته اشاره کوي.

## د ۲۰۲۳م کال په ډسمبر میاشت کې د غزې جګړه

صهیونیستي ادارې په ټول ډسمبر کې پر غزې خپلو بریدونو ته دوام ورکړ. د ډسمبر تر ۲٦مې پورې، ۲۹۱۲۴ فلسطینیان وژل شوي. د وژل شوو کسانو لویه برخه ملکیان وو؛ ۱۱۴۲۲ ماشومان، ۵۸۲۲ ښځې، ۴۸۱ روغتیایي کارکوونکي او ۱۰۱ خبریالان.

په ډسمبر کې د اسرایلو پوځي عملیاتو د غزې زړه ته نفوذ وکړ او د غزې په مرکز او سوېل- اسرایلي پوځ د غزې د ۲.۳ میلیونه نفوس لویې برخې ته ویلي وو چې سوېل ته وتښتي – کې سیمې په نښه کوي.

امریکا د صهیونیستي اداري له پوځ څخه خپل عملیاتي ملاتړ ته دوام ورکړ. صهیونیستي اداري ته د وسلو تامین کولو لپاره بایډن دوه ځله نامعمولې پرېکړې وکړې چې په منځني ختیځ کې بیړنۍ حالت اعلان کړي تر څو د وسلو د پلور په اړه د کانګرس له اجباري بیاکتنې ځان خلاص کړی شي. د ډسمبر پر ۸مه، د بایډن ادارې د بیړني حالت له بند څخه په استفادې په بیړنۍ توګه اسرایلو ته ۱۳۰۰ د ټانک مرمۍ ورکړې. د ډسمبر په ۲۹مه یې بیا دا کار وکړ او پر اسرایلو یې نور توپچي مهمات او اړوند تجهیزات وپلورل.

امریکا د عملیاتي ملاتړ سربېره، د اسرایلو له پوځي عملیاتو ډیپلوماټیک ملاتړ ته هم دوام ورکړ. د ډسمبر په ۸مه یې د بیړني اوربند لپاره د ملګرو ملتونو پرېکړهلیک ویټو کړ. د ډسمبر په ۲۲مه ملګرو ملتونو یو نسبتاً کمزوری او خفیف پرېکړه لیک خپور کړ چې له مخې یې «د غزې ترانګې له لارې د فلسطین ملکي وګړو ته په بیړنۍ، خوندي او له کوم خنډ پرته د یوه مقیاس له مخې بشري مرستو رسولو ته اجازه ورکړل شي»؛ دې پرېکړې ته امریکا ممتنع رایه ورکړه.

د پردې تر شا امریکا د صهیونیستي اداري د لومړي وزیر، نتنیاهو ښکېلولو ته دوام ورکړی چې د داسې اقداماتو کولو مسیر ته یې برابر کړي چې د امریکا له جیوپولیټیکې ستراټیژۍ سره سم وي. امریکا له اسرایلو غوښتل چې په خپله جګړه کې یوه نوي پړاو ته ننوځي؛ یعنې له یوې مخې د غزې د بمبار کولو پر ځای پر دې تمرکز وکړي چې «په دقیقو لارو د حماس رهبري په نښه کړي». امریکا اسرایلو ته وویل چې تمه لري دا نوی پړاو په «څو اونیو» کې پیل شي. اسرایلو د امریکا د غوښتنو نه منلو ته دوام ورکړ او ویې ویل چې یوازې هغه وخت خپل نظامي تکتیکونه بدلولی شي چې پر غزې د جګړې څو نورې میاشتې هم تېرې شي. سره له دې، په ډسمبر کې د امریکا د دفاع وزیر، لوئډ آسټین تر سفر وروسته، اسرایلو د خپلو خبرو شدت بدل کړ. د ډسمبر په ۱۸مه، د اسرایلو دفاع وزیر، یواو ګېلانټ له لوئډ آسټین سره په ګډ خبري کنفرانس کې وویل: «موږ به ژر وکولی شو چې په غزه کې د بېلابېلو سیمو ترمنځ توپیر وکړو او وبه کولی شو چې ورو ورو راتلونکي پړاو ته لاړ شو او د دې لپاره کار کول پیل کړو چې د سیمې اوسېدونکي بېرته راولو».

د داسې کړنو کولو مسیر ته چې امریکا یې غواړي، د اسرایلو په راوستلو کې د امریکا «ورو خو تدریجي بریا» د ډسمبر په وروستیو کې بیا ښکاره شوه. د اسرایلو لومړي وزیر، نتنیاهو په وال سټریټ ژورنال کې یوه نظریاتي مقاله خپره کړه؛ نتنیاهو په دې مقاله کې ویلي چې د سولې تر خبرو وړاندې «باید حماس له منځه یوړل شي، غزه غیر نظامي شي او فلسطیني ټولنه د بنسټپالنې له فکره وایستل شي». دا ښیي چې امریکا پر اسرایلو د خپلو غوښتنو منلو ته یو څه نیږدې شوې؛ دا لومړی ځل دی چې نتنیاهو د جګړې د ختمېدو، خبرو اترو او سولې خبرې کوي؛ ۸ اونۍ وړاندې یې دا هر څه ردول. سره له دې، د نتنیاهو غوښتنې نه یوازې دا چې واقعي نه وې، عملاً

ناشونې وې. په بل عبارت، نتنیاهو د امریکا غوښتنې ته تسلیم شو چې تر جګړې وروسته حللارې باندې خبرې وکړي؛ خو غواړي دا کار په یوه داسې لار وکړي چې تر خپله وسه جګړه وغځوي.

د نتنیاهو پر خبرو سربېره، د ۲۰۲۴م کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه اسرایلو اعلان وکړ چې له غزې خپل ځینې پوځیان راباسي چې پر حماس لا هدفمنده عملیات وکړي. دا تاییدوي چې یهودي اداره د امریکا له فشاره خوندي نه ده او پر مقاومت سربېره یې باید د امریکا غوښتنو ته تسلیم شي، ځکه چې د امریکا وسلو، پیسو او ډیپلوماټیک ملاتړ ته اړ دي.

**له غزې هاخوا**

په ډسمبر کې بېلابېل تحولات راغلل چې په منځني ختیځ کې پر یوه پراخه جګړه د غزې د جګړې د بدلېدو پوټانشیل ښیي.

د دغو تحولاتو لومړی هغه یې په سره بحیره کې وشو چې حوثیانو پر ځینو سوداګریزو کښتیو برید وکړ. دغو بریدونو د نړیوال تامین ځنځیر ډېر مختل کړ؛ په کښتیو کې بار وړونکو ځینو لویو کمپینو پرېکړه وکړه چې د حویثیانو د ګواښ له امله له دې لارې لاړ نه شي او د اسیا-اروپا ترمنځ د لېږد رالېږد لپاره د سویس کانال پر ځای د نېکې هیلې راس (Cape of Good Hope) له لارې لاړ شي؛ دا یې سفر ٦ ورځې اوږدوي او بیې ۴۰ سلنه ورسره لوړېږي. امریکا د حوثیانو د کړنو په سبب ایران تورنوي، دا یو پر ځای تور دی، ځکه چې ایران او حوثیانو ترمنځ نږدې اړیکې ثابتې شوې.

په عراق کې هم په ایران پورې تړلو وسلهوالو ډلو لخوا تحرکات زیات شول. هلته د کتائب حزب الله ډلې د امریکا پر پوځي هډې او ډیپلوماټیکو دفترونو د بې پیلوټه الوتکي برید کړی.

امریکا دغو تحولاتو ته، چې دواړه له ایران سره تړاو لري، قاطعانه غبرګون وښود. په سره بحیره کې یې پر حوثیانو برید وکړ او لس کسه یې ووژل. په عراق کې یې د غچ په موخه پر کتائب حزب الله او ایران پورې تړلو نورو وسلهوالو ډلو هوایي بریدونه وکړل. د امریکا غبرګون ښیي چې دوی پیاوړی هوډ لري چې د غزې جګړه افقي شدت پیدا نه کړي.

پر دې سربېره، باید ووایو چې له دغو جنجالي کړنو د ایران موخه په ډېر احتمال دا نه وه چې دغه جګړه افقي شدت پیدا کړي او ځان په یوه ریښتینې جګړه کې ښکېل کړي. په عراق کې د کتائب حزب الله ډلې یوه استازي دې ته اشاره وکړه او ویې ویل چې په عراق کې د ایران ملاتړ لرونکې ډلې نه غواړي چې جګړه په سیمه کې خوره شي. د دغې ادعا نور شواهد دا دي چې که ایران غوښتی چې جګړه افقي شدت پیدا کړي، نو په لبنان کې به

يې حزب الله ډلې ته لارښوونه کړې وای چې د اسرايلي پوځ پر وړاندې دويمه جبهه پرانيزي. له دغو کړنو د ايران موخه په ډېر احتمال دا وه چې امريکا ته ورياده کړي چې دوی په منځني ختيځ کې نفوذ لري او که وغواړي امريکا ته ستونزې جوړولی شي. په بل عبارت، په ډېر احتمال ايران دغه جنجالونه ځکه زيات کړل چې په خبرو اترو کې خپل دريځ پياوړی کړي؛ ځکه دوی هڅه کوي چې د امريکا له لوري پرې وضع شوي بنديزونه لرې کړای شي. دا ارزونه هغه ترهگريز بريد ته د ايران په غبرگون کې تاييد شوه چې د قاسم سليماني په يادغونډه کې وشوه او نږدې سل کسان پکې ووژل شول. د ايران رهبر، ايت الله خامنه‌اي يوازې يوه بيانيه خپره کړه او د اسرايلو يا امريکا له يادولو پرته يې د دغې پېښې عاملين «د ايران بدخواه او جنايتکاره دښمنان» وبلل – که يې غوښتی چې ايران يوې پرانيستې جگړې ته ننباسي، د دغو عاملينو نوم به يې هرو مرو اخيستی و.

صهيونيستي ادارې هم د ډسمبر له پيل راهيسې ځينې جنجالې اقدامات کړي. د غزې پر وړاندې خپلې جگړې په جريان کې صهيونيستي ادارې گواښ کړی چې بلاخره به په لبنان کې پر حزب الله بريد کوي. د اسرايلو د جگړې وزير، بيني گانتز د ۲۰۲۳م کال د ډسمبر په ۱۱مه وويل: «د ايران په ملاتړ حزب الله ډلې تېري او د بريدونو زياتوالي ته په کتو اړتيا ده چې د اسرايلو په شمال کې کې د ملکي وگړو پر وړاندې دا گواښ له منځه يوړل شي.» دغه راز د اسرايلو دفاع وزير، يواو گېلانټ ويلي: «کله چې په غزه کې د جگړې پروسه بشپړه کړو، نظامي هڅې به شمال ته هدايت شي ... موږ د شمال اوسېدونکي نه شو قانع کولی چې د پولې پر سر خپلو کورونو ته بېرته وگرځي، مگر دا چې ډاډ ترلاسه کړو چې (حزب الله)، چې د حماس په پرتله پياوړې، روزل شوې او مجهزه ډله ده، هلته نشته چې زموږ خلکو ته خطر جوړ کړي.»

پر گواښونکو خبرو سربېره، اسرايلو مادي اقدامات هم کړي. د اسرايلو دفاع وزير، يواو گېلانټ ويلي چې اسرايلي پوځ له اوو په شپږو جبهو کې، چې اوس پکې فعال دي، خپل هدفونه په نښه کړي؛ هغه دا جبهې غزه، لوېديځه غاړه، لبنان، سوريه، عراق، يمن او ايران ياد کړل. په منځني ختيځ کې د اسرايلي پوځ په ډېری اقداماتو کې د لبنان سوېل په نښه شوی. هلته پر حزب الله ډلې د اسرايلو د بريدونو په پايله کې په اکتوبر، نومبر او ډسمبر کې ۱۱۸ کسان وژل شوي او تر ۵۳٦ زيات ټپيان دي. په وژل شوو کسانو کې ۲۰ ملکيان او يو شمېر خبريالان دي. په سوريه کې هم اسرايلو بريدونه کړي او په دمشق کې يې يو ايرانی ډيپلوماټ، سيد رضا موسوي وژلی؛ دا د سپاه پاسداران جنرال و چې له حزب الله او ايران ترمنځ يې د همغږۍ مسوليت درلود. په لبنان کې اسرايلو د حماس د سياسي برخې مرستيال، صالح العاروري ترور کړ؛ دی د حماس له لوري حزب الله ته ور استول شوی و. دا ډول اقدامات که بل ځای شوي وای، نړيوالې ټولنې به د «جنگي کړنو» په نامه د رايو په اکثريت محکوم کړي وای؛ که چېرې بيا د سترو قدرتونو، لکه امريکا او بريتانيا پر وړاندې شوي وای، ځواب به يې نظامي وای او د هر اړخيزې جگړې گواښ و.

د سوریې او لبنان پر وړاندې د اسرایلو د جنګي کړنو په ځواب کې امریکا ډیپلوماټیکې هڅې پیل کړې چې په افقي توګه د غزې د جګړې د پراخېدو مخه ونیسي؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، انټوني بلینکېن سیمې ته سفر وکړ او د امریکا ډیپلوماټیک استازي، اموس هاکشټاین په ځانګړې توګه پر دې تمرکز وکړ چې د اسرایلو او حزب الله ترمنځ کار وکړي او د دواړو ترمنځ د جګړې مخه ونیسي. پر دې سربېره، امریکا یو بل ګام هم پورته کړ او د جرالډ آر فورډ ضربتي ډله یې له مدیترانې پر شا کړه؛ دا پوځي ډله هلته ځکه مېشت شوې وه چې د غزې جګړې د پراخوونکو لوبغاړو مخه ونیسي. دا چې په دغه حساس وخت کې، چې د جګړې د پراخېدو ګواښ تر بل هر وخت زیات دی، امریکا دغه پوځي ډله بېرته کور ته راوغوښته؛ ښایي سبب یې دا وي چې امریکا غواړي اسرایلو ته دا پیغام ورسوي چې نور باید د جګړې او شخړو له زیاتولو پر شا شي: «کله چې ستاسو کړنې په سیمه کې ستاسو د دښمنانو لخوا د غبرګون سبب کېږي، له موږ څخه د خپلې دفاع تمه مه لرئ او په دې برخه کې حساب مه راباندې کوئ؛ نو هوښیار شئ، ارام شئ او شاته لاړ شئ».

د دغو ټولو خبرو د پردې تر شا؛ مصر د جګړې د ختمولو لپاره د حماس او اسرایلو ترمنځ د خبرو اترو مشري کوي. لکه په اصلي جیوپولیټیک تحلیل کې مو چې ویلي؛ د مصر هڅې د امریکا له پلان سره سمې دي. مصر وړاندیز کوي چې حماس او د اسلامي جهاد ډله د دایمي اوربند په بدل کې، په غزې ترانګه کې خپل قوت پرېږدي.

**پایله**

د غزې د جګړې وروستي تحولات د غزې په اړه زموږ د اصلي جیوپولیټیک تحلیل (چې تر دې وړاندې نشر شوی) پایله پیاوړې کوي؛ دا چې امریکا د اکتوبر ۷مې پېښې ته د یوه فرصت په سترګه ګوري چې د منځنې ختیځ په اړه خپل پلان –چې اسیا ته د بشپړ پام اړولو په اړه جیوپولیټیکې ستراټیژۍ څخه یې راځي- نور هم مخته یوسي: دا چې د اسرایلو پالیسي بدله کړي او دې ته یې اړ باسي چې «ابراهیمي تړونونه» هغسې چې امریکا وړاندیز کوي ومني او د دې ترڅنګ د فلسطین لپاره د دوو-دولتونو حللاره.

زموږ د لومړي تحلیل له خپرېدو راهیسې، امریکا پر یهودي اداره فشار ته دوام ورکړی چې خپلې پالیسۍ د منځنې ختیځ لپاره د امریکا له پلان سره برابرې کړي. دا پروسه د «چټکې او مصممې» پر ځای «ورو خو دوامداره» ده؛ ځکه چې په امریکا کې سیاسیون باید په خپل هېواد کې صهیونیستي لابي –چې په تېر تحلیل کې ښه تشریح شوې- مدیریت کړي. «ورو خو دوامدارې او باثباته» تګلارې ځینې بریالیتوبونه ترلاسه کړي؛ لکه دا چې اسرایلي ادارې د غزې جګړې د «نوي پړاو» اعلان کړی. په ورته وخت کې، مصر له حماس سره د کار کولو مشري اخیستې چې د امریکا پلان پرې ومني.

د پام وړ خبره دا ده چې یهودي اداري په ځانګړي ډول ځینې اقدامات پیل کړي چې د امریکا د پلان پر خلاف، د رواني جګړې د شدیدولو لپاره دي. خو دغو اقداماتو ته امریکا په داسې بڼه ځواب ورکړی چې د اسرایلو له پلان سره نه، بلکې له خپل پلان سره یې سم دی. امریکا پرلپسې هڅې کړې چې کله یهودي اداره جګړه زیاتوي، دوی یې را کابو کوي. امریکا له مدیترانې د خپلې ضربتې نظامي ډلې په ایستلو، پر یهودي اداره لا ډیر فشار راوستی چې په راتلونکي کې د جګړې چټکوونکو کړنو څخه ډډه وکړي.

زموږ ارزونه دا ده چې له دې هر څه سره سره به، لږ تر لږه د یو څه وخت لپاره یهودي اداره خپلو هڅو ته دوام ورکړي چې جګړه زیاته کړي. د دې یو سبب جیوپولیټیک دی. د اسرایلو له نظره، په سیمه کې یوه پراخه جګړه، چې د اسرایلو د نه ماتېدو د ډاډمنولو لپاره امریکا هم فعال ګډون پکې ولري، د دې سبب کېږي چې اسرایل د «ابراهیمي تړونونو» پر شرایطو په خبرو اترو کې د خپلې خوښې او ایډیال دریځ ولري. د ایران، لبنان، سوریې او احتمالاً ان سعودي کمزورتیا د دې سبب کېږي چې یهودي اداره په دغو خبرو اترو کې له هغه څه چې غواړي یې، زیات ترلاسه کړي.

بل دلیل چې اسرایل احتمالاً د جګړې د زیاتولو هڅه کوي؛ د دوی په داخلي سیاست پورې اړه لري. د نتنیاهو په مشرۍ اوسنی اسرایلي حکومت تقریباً پوره ډاډه دی چې د جګړې تر ختمېدو وروسته واک له لاسه ورکوي. کله چې د غزې جګړه، د امریکا د پلان له مخې، راتلونکي پړاو ته ننوځي، د اسرایلو اوسنۍ «د جګړې د بیړني حالت کابینه» به وپاشل شي. په راتلونکو ټولټاکنو کې به نتنیاهو هېڅ چانس ونه لري؛ یوه وروستۍ ټولپوښتنه ښيي چې یوازې ۱۵ سلنه اسرایلیان غواړي چې تر جګړې وروسته نتنیاهو پر څوکۍ پاتې شي. که نتنیاهو واک له لاسه ورکړ، په ډېر احتمال چې زندان ته ځي؛ ځکه چې د فساد او فرېب په بېلابېلو تورونو محاکمه کېږي. ډېری استدلال کوي چې هغه یې په خپله دوره کې د اسرایلو د قضایه قوې د اصلاح په هڅه کې و چې د خپلې محاکمې مخه ونیسي. خو د اسرایلو سترې محکمې د هغه وړاندیز شوي قضایي اصلاحات رد کړل.

له دې سره نتنیاهو او په اوسني حکومت کې د هغه ملاتړو ته د جګړې له دوام پرته بله لار نه پاتې کېږي؛ تر هغه چې د امریکا ټاکنې تېرې شي او د دوی له هیلې سره سم یو داسې ولسمشر راشي چې د دوی د ګټو او موخو ډېر ملاتړ وکړي.

په پای کې، دا پرېکړه به امریکا کوي چې راتلونکي شرایط څنګه مخ ته لاړ شي. د امریکا د «ورو خو دوامدارې» تګلارې دوام، د دوی د کړنو تر ټولو ډېر احتمال لرونکی مسیر دی.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

**عدنان خان**